یـــونامـــا
په افغانستان کې د ملګرو ملتونو دمرستندویه پلاوي دفتر
دستراتیژیکو اړیکو دفتر
مطبوعاتی اعلامیه
www.unamanews.org/pashto

ملکي تلفات په ۲۰۱۵ کال کې تر ټولو اوچتي کچې ته رسیدلي دي

کابل، د ۲۰۱۶ کال د فبروریٔ ۱۴ مه – په ۲۰۱۵ کال کې ملکي تلفات تر ټولو لوړې کچې ته رسیدلي دي، دا خبره نن ملګرو ملتونو په ۲۰۱۵ کال کې په وسله والو شخړو او جګړو کې د ملکي وګړو د خوندیتوب د کلنې رپوټ د خپرولو پرمهال وکړه.

دغه کلنی رپوټ ، چې دملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما) لخوا دبشري حقونو لپاره دملګرو ملتونو دعالي کمیشنیرۍ له دفترسره په همغږۍ برابر شوی ښیي، چې د خلکو د اوسیدو په شاوخوا سیمو کې د جګړو او په لویو ښارونو کې دپیچلوځانمرګو بریدونوزیاتیدل په ۲۰۱۵ کال کې د ملکي تلفاتو(مړینې او ټپیانو) د کچې د زیاتیدو اصلي عوامل دي.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي او د یوناما مشر نیکولاس هیسم وویل: ” دغه رپوټ د ملکي وګړو وژنه او ټپي کی تر ټولو زیات اوچتوالي ښکاري. دغه زیان چې ملکي وګړو ته رسیږي په بشپړ ډول د نه منلو وړ دی. “هغه وویل:”موږ په ټولو غاړو چې د افغانستان خلکو ته زیان رسوي غږ کوو، چې د ملکي وګړو د خوندیتوب په ټړاو خپلې ژمنې په عمل کې پلي او په ۲۰۱۶ کال کې د ملکیانو وژنه او معیبونه بنده کړي.“

یوناما په ۲۰۱۵ کال کې ۱۱۰۰۲ ملکي تلفات (۳۵۴۵ تنه وژل شوی او۷۴۵۷ تنه ټپیان) ثبت کړیدي، چې په دې توګه ۲۰۱۵ کال د ملکي تلفاتو له اړخه له ۲۰۱۴ کال څخه مخکې شو. وروستی شمیرې ښیي، چې په مجموع کې څلور په سلو کې ملکي تلفات په ۲۰۱۵ کال کې ترهغه دمخه کال پرتله راغلی دی. یوناما له ۲۰۰۹ کال راهیسې په منظمه توګه د ملکي تلفاتو ثبتول پیل کړي دي .

د جګړې د ښکیلو غاړو ترمنځ ځمکنی جګړې د ټولو ملکي تلفاتو(کړیني او ټپي کیدنې) لویه برخه جوړوي، ورپسې د ځمکنیو لاسي جوړو ماینونو او چاودیدونکو توکو کارونه، ځانمرګي او پیچلي ډله ییز بریدونه راځي. یعنې اول په ځمکنیو جګړو کې د ملکي وګړو تلفات زیات دي او ورپسې په هدفي او قصدي وژنوکې ډیرو ملکیانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.

د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنر زید راد الحسین وویل: ”د افغانستان خلک په دوامدار ډول له داسي وحشي او بې اصولو بریدونو کړیږي، چې د نړیوال قانون پراساس منع شوي دي.“ هغه وویل: ”دا چاره تقریبا په بشپړمعافیت کې ترسره کیږي. د تاوتریخوالي له هغو ترسره کونکو سره، چې د یوناما او زما د کارکونکو لخوا په ټکان ورکونکي ډول ثبت شوي باید حساب کتاب وشي. نړیواله ټولنه باید د ملکي وګړو د حقونو په خوندیتوب لاډیر ټینګار وکړي.“

سره له د ې ، چې د تیر۲۰۱۴ کال پرتله د حکومت مخالفو عناصرو لخوا د ملکي تلفاتو په کچه کې ۱۰ په سلو کې کموالی راغلی، خوبیا هم د ملکي تلفاتو لویه برخه ، ۶۲ په سلو کې حکومت مخالفو عناصرو ته راجع کیږي او ددوی د بریدونو له کبله رامنځ ته شویدي. له دغه کموالي سره سره د یوناما په رپوټ کې دا ثبت شوی، چې حکومت مخالفو عناصرو خپل جنګي تکتیک ته بدلون ورکړی ، او په زیاتیدونکي ډول په قصدي او بې تبعیضه ډول د ملکي وګړوپه نښه کول، هدفي وژنې ، ډله ییز ځانمرګي بریدونه او ځورونې زیاتې شویدي او په لاس جوړولوشویو چاودیدونکو توکو(ماینونو) بې توپیره کارونه پراخه شویده. د حکومت مخالفو عناصرو لخوا دتلفاتو د کچې د کموالي دلیل کیدی شي داوي، چې د هغوجګړو له کبله ملکي تلفات کم شویدي، چې مرجع یې نه ده روښانه.

۱۷ په سلو کې ملکي تلفات حکومت پلوو ځواکونو ته راجع شویدي، چې ۱۴ په سلو کې یې د افغان امنیتي ځواکونو، دوه په سلو کې د نړیوالو ځواکونو او یو په سلو کې تلفات د حکومت پلوو وسله والو ډلو لخوا رامنځ ته شویدي. په رپوټ کې راغلي چې د حکومت اړوند ځواکونو لخوا دځمکنیو جګړو، هوایي عملیاتو او د حکومت پلوو وسله والو ډلو د فعالیتونو په لړ کې د ملکي تلفاتو په کچه کې زیاتوالي ته اشاره شوې .

۱۷ په سلو کې نور ملکي تلفات د جګړې دښکیلو غاړو ترمنځ داسې نښتوله کبله رامنځ ته شویدي، چې هیڅ غاړې ته نشي ځانګړی کیدی. همدارنګه ځلور په سلو کې نور ملکي تلفات د ددغو جنګونو دپاتې چاودیدونکو توکو له کبله را منځ ته شویدي. څه کم نیم په سلو کې پاتې ملکي مرګ ژوبله د پاکستان لخوا افغانستان ته د را واریدونکو توغندیو له کبله رامنځ ته شویدي.

د ښکیلو غاړو ترمنځ په ځمکنیو جګړو کې ۴۱۳۷ ملکي تلفات (۱۱۱۶ مړینه او ۳۰۲۱ ټپیان) رامنځ ته شویدي، چې - د ۲۰۱۴ کال پرتله ۱۵ په سلو کې لوړوالی ښیي اودا په افغانستان کې د ملکي تلفاتو د رامنځ ته کیدو مخکښ یا اصلي عامل دی. د ځای پرځای شویوچاودویونکو توکو له کبله ۲۳۶۸ تنه ملکیانو ته مرګ ژوبله اوښتي ، چې ۷۱۳ تنه یې وژل شوي او ۱۶۵۵ تنه ټپیان شویدي، سره له دې چې له دې اړخه ۲۰ په سلو کې کموالی راغلی دی، خو لاهم په افغانستان کې د ملکي تلفاتو له اړخه دویم ستر عامل بلل شویدی.

د یونا ما په رپوټ کې راغلي چې په ۲۰۱۵ کال کې د ښځو تلفات ۳۷ په سلو کې او د ماشومانو تلفات ۱۴ په سلو کې زیات شویدي.

د یوناما د بشري حقونو د دفتر مشري میرمن ډانیل بیل وویل: "په ۲۰۱۵ کال کې جګړو ملکي وګړو ته سخت زیان رسولی، چې په مشخص ډول ماشومانو ته ناوړه عواقب لري. تیر کال په بیساري ډول زیات ماشومان بې له کوم دلیله وژل شوي او په ۲۰۱۵ کال کې دملکي تلفاتوهرڅلورم کس ماشوم وو." هغې وویل:"د ماشومانو لپاره بل غم داوو، چې دوی خپلې میندې او پلرونه له لاسه ورکړل، تردیره ددوی میندې، خویندې او دکورنۍ ښځینه مهم غړي وژل شوي - په دې توګه په هرولسو ملکي تلفاتوکې یوه میرمنه شامله وه."

د جګړو اړوند تاوتریخوالي له کبله د یو شمیرانتخاب شویو قربانیانو کیسې

"د سهار شاوخوا ۱۰ بجې وې او ما له خپلې دوه کلنې لورسره لوبې کولې ، چې یوه د هاوان مرمي زما پرکور ولګیده اوچاودیده. ما ټکان وخوړ. زما لورکی د مرمۍ په یوې کوچنۍ توټې له شا ولګیده او زما میرمن چې په پخلنځي کې وه څو ځایه ټپي شوه - دوه چرې د هغې په ښۍ پښه ولګیدې. لږ وروسته یو بل هاوان زموږ په ګاونډ کې په یوه بل ځای کې ولګیده. ډاکټرانو زما لورکۍ یوه ورځ وروسته له روغتون څخه رخصت کړه، خو زما میرمني خپله پښه نشوای خوځولی او عملیات شوله."

د ۲۰۱۵ کال د مې د میاشتې په ۱۱ نیټه د جوزجان په اقچې ولسوالی کې د افغان امنیتي ځواکونو او طالبانو ترمنځ جګړې کې د دوو ټپي شویو قربانیانو خپلوان. په ډزو کې یو هلک ووژل شواو د دوو نجونو او یوه هلک په ګډون یې ۱۱ تنه نور ټپیان کړل.

"هغه ماته تیلیفون وکړ او راته یې وویل، سلام وروره ... زه په خیټه کې په مرمۍ ولګیدم ... نپوهیږم چا وویشتم ... زه ډیرسخت ټپي شوی یم... زه خپلې کولمې په خپل موټرسایکل وینم. له دې وروسته تیلیفون بند شو. ما څو ځلي هڅه وکړه، چې هغه ته تیلیفون وکړم، خو تیلیفون یې بند شو او هیڅوک د جګړې له کبله د پیښې سیمې ته نشوای ورتللی، چې هغه را وباسي. په دا بله ورځ، ما د هغه مړ جسد او موټرسایکل په تلویزیون ولیدل. د هغه جسد دري ورځې پرسړک پروت وو وروسته زموږ خپلوانو هغه وموند او خاورو ته یې وسپاره. کله چې ما د هغه جسد ولید، تیلیفون یې په لاس کې وو... او یوه ټوټه ډوډۍ یې په خوله کې وه، خو ټول بدن یې سوځیدلی او تک تور شوی وو."

-- د اکتوبرپه لومړۍ نیټه په کندوز ولایت کې په ډزو کې د یوه وژل شوي کس ورور. قرباني بهر وتلی وو، چې د خپلې کورنۍ ته اوبه راوړي ، ځکه ، چې د طالبانو لخوا دښار د نیول کیدو پرمهال د سیمې د اوبو سیستم پرې شوی وو."

په ریوټ کې یو شمیر مهمې سپارښتنې اوګامونه د پورته کیدو لپاره طرح یا وړاندې شویدي، چې د جګړې ښکیلې غاړې یې د ملکي وګړو د تلفاتو دکمیدو په موخه باید پورته کړي. په دغو ګامونو کې:

<u>د حکومت مخالف عناصرو ته :</u>

په قصدي ډول دې د ملکي وګړو او دملکي سیمو ، په مشخص ډول د ژورنالستانو، د بشري حقونو د فعالینو، قاضیانو او څارنوالانو، د حکومت د ملکي کارکونکو، د خیریه ادارو د کارکونکو او د عبادت ځایونو او کلتوري سیمو په نښه کول ودروي.

د ملکي وګړو د تګ راتک په ټولوسیمو کې دځای پر ځای شوي چاودیدونکواو په غیر قانون ډول د فشاري لاس جوړو چاودیدونکو توکو یا ماینونو کارول دې ودروي.

په بې توپیره توګه دپیچلو ډله ییزو ځانمرګوبریدونو او له ملکي سیمو او یا ملکي سیمو ته د هاوانونو، توغندیونو او لاسي بمونو وارول بند کړئ.

د طالبانو تر واک لاندې سیمو کې دې د ښځو او نجونو د بشري حقونو په اړه د طالبانو د مشرتابه اعلامیه په پام کې ونیول شي او د زده کړو، نجونو، ښوونکو او په ټوله کې د ښوونیزو مرکزونو په وړاندې دې بریدونه ودروي.

<u>د افغانستان حکومت ته:</u>

د ملکي وګړو د اوسیدو پرسیمه د هاوانونو، راکټونو، لاسي بمونو او نورو وسلو او هوایي بریدونو ترسره کول دې ودروي.

دملکي وګړو دخوندیتوب په تړاو دې هغه ملي تګلاره وروستی کول ، چې د هغه عملي پلان لخوا یې ملاتړ کیږي، چې د جګړو پرمهال د ملکي وګړو دتلفاتو د مخنیوي او کمیدو په موخه پکې روښانه لارښوونې او سپارښتنې ځای پرځای شویدي.

په بیړنۍ توګه دې ټولې وسله والې ډلې، ملیشې او د ملي پاڅون په نوم خوځښتونه منحل او له منځه یوسي. د افغان ملي ځواکونو او د حکومت پلوو وسله والو ډلو لخوا له بشري حقونو او نړیوال بشري قانون څخه د سرغړونې او ناوړه ګټې اخیستو د ټولو تورونو پلټنه دې وکړي.

د تاوتریخوالي قربانیانو ته دې د اغیزمني درملنې ډاډ رامنځ ته کړي او په جګړو پورې اړوند تاوتریخوالي کې د وژل شویو ملکي وګړو کورنیو او میرمنو ته د تاوان د ورکړې د پروسیجر پیاوړي کول.


<u>نړیوال نظامي ځواکونه:</u>


په کندوز کې د بې پولې ډاکټرانو پر روغتون د شوي برید په اړه دې بې پرې، خپلواکه ، رښې او اغیزمني پلټنې ترسره کړي او خپلې موندنې دې خپرې کړي، او په دې پیښه کې له پرو کسانو سره دې حساب کتاب ډاډمن کړي.


داوسنیو هدفي بریدونو ټرونونو، عملیاتي پالیسیو او هغو خاصو مشخصاتو ته دې له سره کتنه وکړي، چې د روغتونونو په ګډون په ملکي سیمود بریدونو مخه ونیسي .

په وسله والو شخړونو کې د ملکي وګړو دتلفاتو د کمولوپه موخه د افغانستان د حکومت دملي پالیسۍ د عملي کیدو او لا پیاوړي کیدو ملاتړ کول.

***


د ۲۰۰۹ له جنورۍ د ۲۰۱۵ تر دسمبره وژل شوي
او ټپي شوي ملکيان
8000
6000
4000
2000
0
2412
3556
2794
4368
3133
4709
2769
4821
2969
5669
3701
6833
3545
7457
2009
2010
2011
2012
2013
2014
2015
Deaths
Injuries


د ۲۰۱۵ کال له جنورۍ تر دسمبره دپيښو د ډول او تکتيک په لحاظ د
ملکيانو وژل او ټپي کيدل
هوايي عمليات
۳٪
قصدي او هدفي وژنې
۱۳٪
پيچلي او ځانمرکي
بريدونه ۱۷٪
چاوديدونکي توکي ۲۱٪
ځمکنۍ جګړې
۳۷٪
اي ار ډبليو
4%
نور ۵٪


د ۲۰۱۵ کال له جنورۍ تر دسمبره د بيلا بيلو ډلو لخوا د ملکيانو وژنه او
ټپي کيدنه
د افغان خواکونو او
وسله والو مخالفينو
ترمنځ داسې جګړو کې
چې مسوولیت يې چاته
نشي مشخص کيدی
۱۷٪
نور ۴٪
حکومت مخالفې
عناصر ۶۲٪
حکومت پولې خواکونه
۱۷٪